

Pashto

بشتو

# حاجي ته پيغام


ليکوال

مرکز المحتسب للإستشارات

ژباړن

عبدالرحيم سلطان



IslamHouse.com

مركز أصول Osoul Center www.osoulcenter.com

Rabwah

# رسالة إلى حاج

إعداد
مركز المحتسب للاستشارات
ترجمة
عبدالرحيم سلطان

PASHTO
بشتو

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤١هـ

**فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر**

خان، عبدالرحيم سلطان

رسلة إلى حاج: اللغة البشتو . / عبدالرحيم سلطان خان. - الرياض، ١٤٤١هـ

٣٢ ص، ١٢ سم x ١٦,٥ سم

ردمك : ٠-٧١-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨

١- الحج أ. العنوان

**ديوي ٢٥٢،٥ ١٤٤١/١٦٨٢**

**رقم الايداع: ١٤٤١/١٦٨٢**

**ردمك : ٠-٧١-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨**

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532
+966 11 445 4900
+966 11 497 0126
P.O.BOX 29465 Riyadh 11457
osoul@rabwah.com
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# لړليک

| | |
|---|---|
| هغه ځايونه چه دهغي ليدل او زيارت کول دعبادت په نيت باندي جايز نه دي | ٩ |
| مکتبه مكة المكرمة | ٩ |
| غار حراء | ١٠ |
| غار ثور | ١١ |
| دوهم هغه اماكن )ځايونه( چه دهغي ليدل او زيارت كول شرعا مشروع او جايز دي | ١٣ |
| مقبرة المعلاة | ١٤ |
| دام المؤ منين ميمونة رضى الله عنها قبر | ١٤ |
| دحوا عليها السلام قبر | ١٤ |
| دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دمور بي بي اميني قبر | ١٥ |
| هغه قبرونه چه خصوصي دهغي زيارت کول مستحب دي | ١٦ |
| دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دقبر زيارت كول | ١٦ |
| د ابو بكر او عمر رضي الله عنهما قبرونه | ١٦ |
| احد ميدان ته تلل | ١٧ |

| | |
|---|---|
| مسجد الفتح | ١٨ |
| مسجد سلمان الفارسي | ١٨ |
| مسجد ابي بكر الصديق رضى الله عنه | ١٩ |
| مسجد عمربن الخطاب رضى الله عنه | ١٩ |
| مسجد علي بن ابي طالب رضى الله عنه | ١٩ |
| مسجد فاطمة بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم | ١٩ |
| مسجد القبلتين | ٢٠ |

سلام الله علیك ورحمته وبركاته، وبعد .

محترمه حاجي ورو‌ره اخر هم ستا قدمونه دحرم شريف په زمكه ولګيدل او دا ستا هغه خوب وو، چه له ډيري زمانې نه به ستا په خيال كښې لوبيدلو، دادی نن دې په خپلو سترګو دخپل خوب تعبير وليدلو، نو ستا لپاره خوشحالي او خوشبختي ده او مونږ درته ښه راغلاست وايو.

ګرانه ورو‌ره.. زه په يقين سره دا ويلی شم چه ستا زړه به د الله جل جلاله او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم دمحبت نه ډک وي، نو ددې له وجې نه زه له تانه داپو ښتنه كوم :

**آيا ته دا نه خوښوې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ووينې او ورسره په دې سفر دحج كښې ملګرى شې؟**

زه باور لرم چه ته به خامخا داسي وايې، چه ولې نه، بلكه ددې په مقابل كښې چه زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ووينم او ورسره ملګرى شم، هر هغه څه وركولو ته تيار يم چه زه دهغې مالک يم.

ګرانه ورو‌ره زه تاته وايم، كه دا ناشوني او نا ممكن وي چه نن ورځ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په حقيقت كښې ووينې او ورسره ملګرى شې، داخو كولاې شی چه په روح او خيال سره، په دې مبارک سفر دحج كې، درسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرتوب وكړې او هغه داچه ته درسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري وكړې او هر هغه

اماکن (ځایونه) تالاش کړي، او زیارت يي وکړي په حج کي، کوموته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورغلی دی. او هغه ځایونه پریږدي کوم چه رسول الله صلی الله وسلم پریښي دي، او نه دی ورغلی. نو ته به داسي شي ګویا چه ته درسول الله صلی الله علیه سره ملګری شوي.

زه غواړم چه تاته دهغه ځایونو یادونه وکړم کومو ته چه دحج په وخت کي ته ورځي او ستا نبي محمد صلی الله علیه وسلم ورته نه دی ورغلی، نو که ته دا غواړي چه دخپل نبي صلی الله علیه وسلم نه لري او جداشي، دغه ځایونو ته ورزه او که دا نه غواړي چه دخپل نبي صلی الله علیه وسلم نه جدا شي نو ددغه ځایونو نه ځان وساته.

## اول هغه ځایونه چه دهغي لیدل او زیارت کول دعبادت په نیت باندي جایز نه دي:

دحج په وخت کښي ددي ځایونو زیارت کول دعبادت په نیت باندي شرعا جایز نه دي او درسول الله صلی الله علیه وسلم دطریقي ښکاره مخالفت دی.

### ١ مکتبه مکة المکرمة:

دا مکتبه دمسجد حرام شرقي طرف ته واقع ده، بعضي خلک داعقیده لري چه په همدي ځاي کښي رسول الله صلی الله علیه وسلم پیداشوی دی، لیکن ددي یقیني ثبوت نشته، او بل داچه رسول الله صلی الله علیه وسلم دحج او عمرې په دوران کښي ددي ځاې زیارت نه دی کړی.

نو دحج په وخت کښي ددي ځاي لیدل او زیارت کول دعبادت په نیت باندي جایز نه دی او درسول الله علیه وسلم دطریقې خلاف عمل دی ، دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی:

«**من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد**».[١]

**چاچه پیداکړه زمونږ په دین کښي هغه څه چه ددین نه نه وي نوهغه به رد وي او مقبول به نه وي.**

---

(١) رواه مسلم (٣- ١٣٤٣).

ددي ځاي لیدل او زیارت کول که مشروع او سنت وی، او خیر په کښې وی، نو خامخا به نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددي ځاي لیدل او زیارت کړی وی، او همدارنګه صحابه کرامو به هم ددي ځاي زیارت کړی وی.

مګر که ته دکتابونو دلیدلو او لو ستلو لپاره ددي ځاي لیدل او زیارت کول غواړې نو باک نه لري. خو که څوک ناپوهه دي ولیده چه ددي ځاي نه ګیر چا پیره طواف کوي او دي طرف ته لمونځ کوي او قبله شاته پریږدي، او یا ددي مکتبي دیوالونه مسحه کوي او برکت پري حاصله وي، نو ددي قبیح کار نه یې منعه کړه، او په ښه طریقه او نرمۍ سره ورته وضاحت وکړه چه دا کار نارواه او باطل دی.

## ۲ غار حراء:

دا هغه غار ده کومه کښې چه به نبي کریم صلی الله علیه وسلم دنبوت نه مخکې عبادت کولو، که ددي غار څه خصوصیت وی، او یا ددي غار زیارت کول مشروع او جایز وی، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم به دنبوت نه رستو ددي ځاي زیارت کولاې، نبي کریم صلی الله علیه وسلم دنبوت نه روستو لس (۱۰) کاله په مکه مکرمه کښې پاتې شوی وو، او ددي غار زیارت یې نه دی کړی، نه په حج کښې او نه په عمره کښې. او نه دصحابه کرامو نه ددي غار زیارت کول ثابت دي، نو ددي غار زیارت کول دعبادت په نیت باندي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دطریقي ښکاره مخالفت دی، نا جایز ناروا او مردود عمل دی.

اوهر چه بعضي خلک دغه غار دتبرک په نیت باندي مسحه

کوې، او دځان نه بعضي دعاګاني وايي، داخو ډير ناروا عمل او ښکاره مخالفت دی.

### ۳ غار ثور:

دا هغه غار ده په کومه کښي چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم او ابوبکر صديق رضى الله عنه دهجرت په واقعه کښي پناه اخستې وه ددي لپاره چه د مشرکينونه محفوظ شي.

ليکن ددي غار لپاره هيڅ ديني ارزښت نشته، نه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ددي غار زيارت کړی دی، او نه صحابه کرامو ددي غار زيارت کړی دی، او نه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ددي غار زيارت کولو ته ترغيب ورکړی دی. نو داخلک په کوم دليل سره ددي ځايونو زيارتونه کوي دعبادت په نيت باندي.دا ټول دځانه جوړ شوي او ناروا اعمال دي.

### ٤ داحد غره کښي دغارنو زيارت کول:

بعضي خلک داحد په غره کښي دبعضي غارونو زيارتونه کوي، او داګمان کوي، چه په دي کښي اجر او ثواب دی، حالانکه ددي هيڅ اصل او دليل نشته.

### ٥ په عرفات کښي د (جبل الرحمة) دغره زيارت کول:

ډير مسلمانان دا ګمان کوي، چه دعرفي په ورځ باندي په جبل رحمت غره باندي ودريدل ضروري دي، او بعضي خو لا داکوشش هم کوي، چه دغره بره سر ته ور وخيژي، ددي هيڅ دليل په شرعه کښي

نشته، بلکه دعرفي په ټوله زمکه ودريدل صحيح دي، مګر په (بطن عرنه) نومي ځاي کښې ودريدل صحيح نه دي، او دحکومت دطرفه دعرفات دحدودو معلومولو لپاره ښکاره علامي او نښې لګيدلي دي.

نو دحاجي لپاره دا مناسب نه ده چه خامخا د جبل رحمت غره ته دختلو کوشش وکړې، او دا ثواب کڼي، حتی تردي پوري چه نورو خلکو ته ضرر هم ورکوي.

❁❁❁

## دوهم هغه اماكن (ځايونه) چه دهغي ليدل او زيارت كول شرعا مشروع او جايز دي:

ليكن په دي كښي دا تخصيص نشته چه دحج په ورځوكښي ددي ځايونو ليدل او زيارت كول مشروع دي فقط بلكه ددي ځايونو ليدل او زيارت كول په هر وخت كښي مشروع دي، بعضي ددي ځاينو نه دقبرستان ليدل دي: دقبر ستان ليدل او دهغي زيارت كول ددي لپاره جايز او مشروع دي، چه انسان خپل مرګ راياد كړي، پند او نصيحت واخلي، او داخرت لپاره تيارى او نيک اعمال وكړي.

ليكن نن په مقبروكښي داسي مخالفات او ناروا كارونه كيږي، كوم چه مؤمن بنده ډير غمژن كوي، لكه دنارينه اوزنانه اختلاط (ګډون) شو وغيره اوبعضي خلک خو لا دمړو نه پكښي مددونه غواړي، كوم چه ښكاره منكر او ناروا عمل دى، كه چيرته داخلک نبي كريم صلى الله عليه وسلم په دي ناروا عمل ليدلى وى، نوخامخا به يي منعه كړى وى.

كه ته چيرته په دي قادر يي نو دقبرستان زيارت كوه، او خلک ددي منكرا تو نه منعه كوه امر بالمعروف كوه اونهي عن المنكر كوه، او دالله سبحانه وتعالى نه داجر اميد ساته.

سره له دينه چه دقبر ستان زيارت كول جايز او مشروع دي، ليكن بعضي خلک دحج او عمرې په دوران كښي دخاصو قبرونو دزيارت اهتمام كوي، دكومو دخصوصيت لپاره چه هيڅ دليل نشته.

## ١ بعضي ددي قبرونو نه (مقبرة المعلاة) ده په مکه مکرمه کښي:

په دي مقبره کښي ډير قبرونه دي دصحابه کرامو، په دي مقبره کښي (ام المؤمنين خديجه رضي الله عنها) هم مدفون ده، ليکن دنبي کريم صلى الله عليه وسلم نه په حج يا عمره کښي دخديجي رضي الله عنها دقبر زيارت کول ثابت نه دي، سره له دينه چه دخديجي رضى الله عنها ډير لوي مقام وو درسول الله صلى الله عليه وسلم سره.

## ٢ دام المؤ منين ميمونة رضى الله عنها قبر :

د ميموني رضى الله عنها قبردمکي مکرمې نه بهردمديني په لاره باندي واقع دی، ليکن دحج او عمرې په وخت کښي ددي قبر په خصوصي زيارت کولو باندي څه دليل نشته بلکه ددي قبر حيثيت دنورو عامو قبرونو په شان دی.

## ٣ دحوا عليها السلام قبر :

په جده کښي دوزارت خارجيه دتعمير مخي ته په يو قبر باندي بعضي خلک داګمان کوي، چه دا دحوا عليها السلام قبر دی، ليکن څوک دا ثابته ولى شي چه دا همغه قبر دی، دا ډيره دتعجب خبره ده. بهر حال زمونږ نبي صلى الله عليه وسلم نه ددي ځاي زيارت کړی دی، اونه يي ددي ځاي دزيارت کولو حکم کړی دی، او دا لاهم نه ده ثابته چه دلته قبر شته، نو ددي ځاي زيارت کول دعبادت په نيت باندي، ښکاره بي عقلي ده، او دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دطريقي خلاف کار دی.

خصوصا داځايونه وسيله جوړه ول، او په دي ځاينو برکت حاصلول وغيره دا ټول هغه کارونه دي، چه انسان شرک ته رسوي.

### ٤ دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دمور بي بي اميني قبر :

دبي بي اميني دقبر په خواكښي خلک ډير منكرات كوي لكه دقبر په خواكښي لمونځ كول، او په همدي قبر باندي پيسي وغيره اچول، او دقبر نه طواف كول، او بركت تري نه حاصلول. او دنبي كريم صلى الله عليه وسلم نه په حج او عمره كښي ددي قبر زيارت كول ثابت نه دي، نو ددي قبر په زيارت كولو كښي څه فضيلت نشته، بلكه دا ثابته ده چه الله سبحانه وتعالى نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته دا اجازه ورنه كړه چه دخپلي مور لپاره دالله تعالى نه ببښنه وغواړي، امام نووي رحمه الله فرمايي په شرحه دصحيح مسلم كښي:

**«استأذنت ربي أن أستغفر لأمي فلم يأذن لي واستأذنته أن أزور قبرها فأذن لي».**

**ما دخپل رب نه دا اجازه طلب كړه چه خپلي مور لپاره ببښنه وغواړم خو ماته اجازه ملاو نه شوه، او ما دا طلب وكړه چه دهغي دقبر زيارت وكړم، نو اجازه ملاوشوه.**

دا حديث ددي خبري جواز وركوي چه دمشركينو ملاقات كولى شي په ژوند كښي، او همدارنګه دمشركينو دقبرونو ليدنه هم كولى شي دمرګ نه روستو.

هركله چه دمشركينو دقبرونو ليدل جايز دي، نو په ژوند كښي خو يې خامخا ليدنه او ملاقات جايز دی، الله تعالى فرمايي :

﴿وَصَاحِبۡهُمَا فِي ٱلدُّنۡيَا مَعۡرُوفٗا﴾

**او ملګرتيا ددوي كوه د دنيا په كار كښي نيكه ملګرتيا.**

او په دي حديث كښي دمشركينو لپاره دبښني غوښتلو نه منعه ذكر ده، قاضي عياض رحمه الله وايي: نبي كريم صلى الله عليه وسلم په دي وجه باندي دا زيارت كولو چه ددي قبر په ليدلو سره پوره وعظ حاصل كړي، دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په يو بل حديث كښي ددي تاييد موجوددی.

**«فزوروا القبور فإنها تذكركم الموت».**

**تاسو دقبرونو ليدنه كوي ځكه چه دا تاسو ته مرګ در په ياده وي[1].**

## هغه قبرونه چه خصوصي دهغي زيارت كول مستحب دي:

### ١ دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دقبر زيارت كول:

دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دقبر زيارت كول مستحب دي، او دهغه قبر ته مخامخ ودريدل اوورباندي سلام اچول هم مستحب دي، دسلام الفاظ دادي:

**(ألسلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، صلي الله عليك وجزاك عن أمتك خيرا).**

**سلام دي وي، او دالله تعالى رحمتونه اوبركتونه دي وي په تا باندي، اى دالله نبي، او الله تعالى دي تاته ستا دامت له طرفه خير دركړی.**

### ٢ دنبي كريم صلى الله عليه وسلم د دوه ملګرو (ابوبكر، اوعمر) رضى الله عنهما دقبرونو زيارت هم مستحب دی.

په نبي كريم صلى الله عليه وسلم باندي دسلام اچولونه بعد به يو

(١) شرح النووي على مسلم (٧- ٤٥)

دوه قدمه مخکې شي ددي لپاره چه دابوبکر رضى الله عنه دقبر مخامخ ودريږي، اوسلام به وورباندي واچوي، او دسلام الفاظ دادي:

**(السلام عليك يا أبابكر خليفة رسول الله صلى الله عليه وسلم ورحمة الله وبركاته، رضي الله عنك، وجزاك عن أمة محمد خيرا)**

او ددي نه بعد به ښي طرف ته يو دوه قدمه مخکې شي ددي لپاره چه دعمر رضى الله عنه قبر ته مخامخ ودريږي، او سلام به وورباندي واچوي.

**(السلام عليك ياعمرأميرالمؤمنين ورحمة الله وبركاته، رضي الله عنك، وجزاك عن أمة محمد خيرا)**

د بقيع مقبرې زيارت کول او په دفن شوي مسلمانانو باندي سلام اچول : او همدارنګه دعثمان رضى الله عنه قبر ته مخامخ ودريدل او ورباندي سلام اچول : دسلام الفاظ دادي:

**(السلام عليك ياعثمان أميرالمؤمنين ورحمة الله وبركاته، رضي الله عنك، وجزاك عن أمة محمد خيرا)**

## ۳ احد ميدان ته تلل:

او دحمزه رضى الله عنه د قبر او دنورو شهداو قبرونو زيات کول، دا صحابه کرام ټول په يوځاي دفن شوي دي، نو په دوې باندي سلام اچول او ددوي لپاره دالله تعالى نه دمغفرت او رحمت دعا غوښتل مستحب دي.

دريم هغه اماکن (ځايونه) چه په هغي کښي عبادت کول جايز او مشروع دي، ليکن دغه ځايونه په عبادت سره خاص کول جايز نه دى: داپه مدينه طيبه کښي يو څو مسجدونه (جماعتونه) دي، چه حکم يي

دعامو جماعتونو په شان دی، یعني عبادت کول په کښې مشروع اوجایز دي، او څه تخصیص وغیره یې نشته، بلکه ټول مسجدونه دالله کورونه دي او داجایز نه دي چه په دي مسجدونو کښې بعضي مسجدونه خاص کړی شي، اودهغې خصوصي زیارت کیدي شي او عبادت په کښې کیږي، مګر درې مسجدونه دي، چه دهغي خصوصي زیارت کول او په هغي کښي عبادت کول مشروع دي، لکه مسجد الحرام، مسجد نبوي، اومسجد اقصی شو، او ددینه علاوه په هر ځاي کښي چه په مسلمان باندي دلمانځه وقت راشي، نولمونځ دي اوکړی هریو مسجد کې چه وي، نودامناسب نه ده چه ددي (۷) مسجدونو تخصیص وکړی شي، ځکه چه په دي کښي دسنت مخالفت دی، او بعضي جهلان خلک په کښي ډیر ناروا اعمال کوي لکه دمسجدونو دیوالونه مسحه کوي، اوتبرکورباندي حاصلوي وغیره دا هغه اعمال دي چه انسان شرک ته رسوي.

## ۞ هغه آوه (۷) مسجدونه دادي:

### ۱ مسجد الفتح، او یا مسجد الاحزاب:

دا مسجد په ټولو مسجدونو کښي لوي مسجد دی، او دجبل سلعه دبره غربي طرف ته اوچت جوړ دی، او داسي ویل کیږي، چه دي مسجد ته مسجد فتحه ځکه وایي، چه دغه غزوه (غزوه دخندق) دمسلمانانو لپاره لویه فتحه وه.

### ۲ مسجد سلمان الفارسي:

دا مسجد دمسجد الفتح جنوبي طرف ته په شل (۲۰) متره دغره په بیخ کښي واقع دی، او دسلمان فارسي رضی الله عنه په نوم باندي مشهور

دی، داهغه صحابی دی کوم چه دخندق دکنستلو مشوره يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورکړي وه ددي لپاره چه مدينه ددښمنانونه محفوظه شي.

### ۳ مسجد ابي بكر الصديق رضی الله عنه:

دابوبکر صديق رضی الله عنه مسجد: دامسجد، دسلمان فارسي رضی الله عنه دمسجد جنوبي طرف ته د (۱۵) متره په مسافه کښي واقع دی.

### ٤ مسجد عمر بن الخطاب رضی الله عنه:

دعمر رضی الله عنه مسجد دابوبکر صديق رضی الله عنه مسجد ته نيژدي دعمر رضی الله عنه مسجد په (۱۰) متره جنوبي طرف ته واقع دی. او ډير په ښکلي طريقي سره اوچت جوړ دی، او اته قدمه د زمکې نه او چت دی.

### ٥ مسجد علي بن ابي طالب رضی الله عنه:

دعلي بن ابی طالب رضی الله عنه مسجد: دا مسجد د فاطمي رضی الله عنها دمسجد مشرقي طرف ته په يوه اوچته ډيرکۍ باندي جوړ شوی دی، او داسي هم ويل کيږي چه په دي ځاي کښي علي رضی الله عنه عمرو بن ود العامري مشرک قتل (اوژه) کوم چه کوشش يې کوو چه له هغه خندقه تير شي کوم چه صحابه کرامو کنستلی وو له دي لپاره چه مدينه محفوظه شي.

### ٦ مسجد فاطمة بنت رسول الله صلی الله عليه وسلم:

دفاطمي رضی الله عنه مسجد:په تاريخ کښي دي مسجد ته دسعد

بن معاذ مسجد وايي او دا په ټولو مساجدوکښي وړوکی مسجد دی او دعلي بن ابي طالب مسجد غربي طرف ته واقع دی.

### ۷ مسجد القبلتين:

داهغه مسجد دی، په کوم کښي چه په رسول الله علیه وسلم باندي د تحويل قبلي (قبله د بيت المقدس نه مسجد حرام طرف ته بدليدلو) لپاره وحي نازله شوي وه، دهغه وخت نه دي مسجد ته مسجد قبلتين وايي، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دي مسجد کښي دلمانځه اوله حصه (برخه) بيت المقدس (مسجد اقصی طرف ته) او دوهمه حصه (برخه) دلمانځه يي مسجد حرام طرف ته ادا کړي وه. ليکن هغه مساجد چه دهغوي زيارت کول مستحب دي دلمانځه لپاره په هغوي کښي، يو مسجد (قبا) دی، لکه څرنګه چه په صحيحينو کښي د عبدالله بن عمر روايت دی:

**«كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأتي مسجد قباء راكبا وماشيا، فيصلي فيه ركعتين».**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم به مسجد قبا ته راتلو په سورلۍ او همدارنګه پايدل، او دوه رکعته لمونځ به کولو[١].**

محترمه حاجي وروره..........

مخکښي مو داخبره ذکر کړه چه ددي اماکنو (ځايونو) هيڅ خوصوصيت نشته چه ته د هغي زيارت اوکړي، او بعضي هغه مخالفتونه او نارواه کارونه مو هم ذکرکړه کوم چه دبعضي خلکونه په دي ځايونو

(١) صحيح البخاری (٢- ٦١) مسلم (٢- ١٠١٦).

کښې صادرېږي، اوس درته دخوړ نبي محمد صلی الله علیه وسلم یوحدیث هم ذکر کول غواړو:

**«من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد»[(١)].**

**چاچه پیداکړه زمونږ په دین کښې هغه څه چه ددین نه نه وي نوهغه به رد وي او مقبول به نه وي.**

یعني چا چه داسي یو عبادت په دین کښي له ځانه جوړ کړه چه د هغي لپاره څه دلیل نه وو، نو دغه عبادت به مردود وي، اګر که دا پري داګمان کوي چه داعبادت دی او ښه کار دی. او همدارنګه داقول درسول الله صلی الله علیه وسلم هم واوره:

**«وشر الأمور محدثاتها وكل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة وكل ضلالة في النار»[(٢)].**

**او ناکاره ددین په کارونو کښي هغه دي چه دځانه جوړ شوي وي، او هر دځانه حوړ شوی کار په دین کښي بدعت دی، او هر بدعت ګمراهي ده، او هره ګمراهي به په اور کښي وي.**

او په اخیره کښي دا هم واوره چه دا نارواکارونه او بدعات انسان دقیامت په ورځ درسول الله صلی الله علیه وسلم، د حوض کوثر نه محرومه کوي، لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«إني فرطكم على الحوض، من مر علي شرب، ومن شرب لم يظمأ أبدا، ليردن علي أقوام اعرفهم، ويعرفونني، ثم يحال بيني**

---

(١) صحيح مسلم (٣- ١٣٤٣).

(٢) صحيح ابن خزيمة (٣- ١٣٤٣).

**وبينهم، فأقول إنهم مني، فيقال: إنك لاتدري ماأحدثوا بعدك. فأقول سحقا سحقا لمن غير بعدي»[۱].**

**یقینا زه تاسو ته مخکې انتظار کوم په حوض باندي، او څوک چه زما په حوض راتیر شو نو اوبه به تري اوسکي، او چاچه زما له حوض نه اوبه اوسکلې نو هیڅ کله به تږی نشي، بعضي څه خلک به زما طرف ته راشي، چه زه به هغوي پیژنم او هغوي به ما پیژني، بیابه زما او دهغوي تر مینځ حائل (پرده) واقع شي، زه به ووایم دا خو زما له امت څخه دي، اوبه ویل شي، ته نه پوهیږي په هغه بدعاتو باندي، کوم چه دوي په دین کښي جوړ کړي وو، ستانه روستو نو زه به ووایم چه هلاکت دی هغه چاله چه زما نه روستو يي په دین کښي تغییر کړی وی.**

ایا ته دا خوښه وي چه د خوږ نبي صلى الله عليه وسلم د حوض نه محرومه شي، ایا دا خوښه وي چه ستا او د خوږ نبي صلى الله عليه وسلم په مینځ کښي حائل (پرده) واقع شي او هغه ستا په باره کښي ووایي، چه هلاکت دی هغه چاله چه زما نه روستو يي په دین کښي تغییر کړی وی.

محترمه ورورة: اګر که په ټولو قسمونو د بدعت کښي شر دی، لیکن په هغه بدعت کښي ډیر شر دی کوم چه دشرک سره مساوي او برابر وي، او یا دشرک لپاره ذریعه وي، ځکه چه دشرک اکبر سزا داده چه ددي شرک اکبر مرتکب به همیشه په اور دجهنم کښي وي، دډیرو خلکو نه داشرک اکبر صادریږي، په دي مذکوره (ذکر شوې) ځایونو کښي، او متحرمه ورورة مونږ کوشش کوو چه دجهنم داور نه بچ شو او دالله تعالی نه د جنت سوال کوو، نو څنګه مونږ دداسي اعمالو ارتکاب اوکړو کوم چه دجهنم داور سبب کرځي!

(۱) صحيح البخاري ( ٥- ٢٤٠٦).

# بعضي ددي اعمالونه دادي

١ د دي ذكرشوى ځايونونه طواف كول، لكه دمكې مكتبه شوه او بعضي قبرونه شو او همدارنګه په عرفه كښې د جبل رحمت دغره نه طواف كول، داټول ناروا دي، ځكه چه طواف به صرف دبيت الله نه كولاى شي.

٢ قبرونو ته لمونځ كول او دهغې نه قبله جوړه ول.

٣ دغيرالله نه غوښتني كول او حاجتونه غوښتل لكه د نبي صلى الله عليه وسلم نه مددونه او حاجتونه غوښتل او يا دنورو قبرونو نه مددونه غوښتل.

٤ بركتونه حاصول دبعضي ځاينو نه لكه دمكتبې ديوالونه شو او قبرونه شو او همدارنګه دبعضي ځايونو په خاورسره دبركت حاصلولو عقيده باطله ده.

٥ بعضي ونو اوبټو وغيره ته غوټې اچول، او يا ورته څه داسي پاڼې وغيره ورګزارل كوموكښې چه څه دعاګاني وغيره وي.

٦ دقبرونو نه ګير چاپيره ديوالونه او پنجري خوښكلول، او څه غوټې وغيره وراچول او دهغې نه بركت وغيره حاصلول.

٧ بعضي قبرونو باندي پيسي اچول او همدارنګه خوشبو اچول ناروا كار دى.

٨ قبرونو ته مخامخ په عاجزۍ سره ودريدل، او خشوع كول او جړا كول وغيره دا ټول ناروا كارونه دي ددي نه ځان ساتل ضروري دي.

محترمه حاجي وروره.. په اخره کښي دالله تعالی نه دا دعا کوو، چه تاته په دي سفر دحج کښي توفیق در په برخه کړي، او توفیق درکړي چه په راتلونکو ورځو کښي د الله دکتاب او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم په سنتوباندي عمل اوکړي!

او جداوالی راولي په مابین ستا او په مابین دبدعاتو ګناهونو او خطاګانو کښي، لکه څنګه چه يي جدا کړی دی مشرق دمغرب نه. او وګرځوي تا له هغه چانه چه حج يي قبول وي او ګناهونه يي معاف وي، لکه څنګه چه له مور نه پیدا شوي وي.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين، وصل اللّٰهُمَّ على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم.







IslamHouse.com

islamhouseps IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة
هاتف: ٠٠٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧
ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH
P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# حاجي ته پيغام

په دي رساله کښې دحج په اړوند ډير ښه او بهترين معلومات موجود دي او هغه غلطياني په ګوته کوي کوم چي د اکثرو حاجيانو نه سرزد کيږي، هر يو مسلمان عموما او حاجي خصوصا بايد دا رساله په غور سره اوګوري او فائده تري نه واخلي.




IslamHouse.com
مرکز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com
Rabwah